# چیني چارواکو له ایغور مسلمانانو څخه د قران‌کریم او جاینمازونو د ټولولو امر صادر کړ!



د رپوټونو پر اساس چیني چارواکو د قران‌کریم، جاینمازونو او د ایغور مسلمانانو په دیني چارو پورې د اړوندو شیزونو د ټولولو امر صادر کړ. څوک چې له دغه امر سره مخالفت کوي، د چین له سخت چلند سره به مخ شي. د ایغور مسلمانان د چین په شمال لویدیځ کې پرته سیمه سینکیانګ کې اوسي.

همدارنګه د چین له ایغور سرچینو څخه د «انډیپینډنټ» انګلیسي خبرپاڼې د رپوټ پر اساس داسې نقل شوی: «چیني چارواکو په تېره اپرېل میاشت کې پر سینکیانګ سیمه له تروریزم او افراطیت سره د مبارزې په نامه جدي اقدامات هم صادر کړل.» په دغو اقداماتو کې پر ږیره پرېښودو بندیز، په عامه ځایونو کې د مسلمانو ښځو حجاب لرې کول او د هغو کسانو څارنه چې د دولتي تلویزیون کتنه ردوي؛ شامل دي. د چین حکومت د دیني شعائرو پر بندیز لکه: سلګونه مسجدونه بندول، د حجاب لرونکو ښځو ازار او په رمضان مبارکه میاشت کې د روژې نیولو په مخنیوي د هغوی اسلامي هویت له منځه وړي.

د شرقي ترکستان د مسلمانانو غمیزه له اقلیمي ساحې تېرې کوي او حتی په نړیواله تراژیدي بدله شوې. زموږ د اهل درد او رنځ په شرقي ترکستان، د شام په مبارکه خاوره، یمن او د مسلمانانو په نورو خاورو کې ټول یو واقعیت بیانوي. پر مسلمانانو د حاکمو نړیوالو نظامونو دا تروریستي عمل، له اسلام او د دغو نظامونو له بدیل (خلافت) سره د مطلقې دښمنۍ پر بنسټ د دوی همنظري څرګندوي.

دا په داسې حال کې ده، چې د افغانستان او پاکستان چارواکي د چين له حکومته د خوشبينۍ ليد لري او د اسلامي عقيدې پر خلاف له هغوی سره نېکې اړيکې لري. دا دی د مزدورو چارواکو د وروری او دوستۍ احساس، چې له گټو پرته بل څه نه پېژني.